# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

مائوتسه دون
ژباړه: فرهاد ویاړ
۰۶ مارچ ۲۰۲۱

## د تضاد په اړه
**(د ۱۹۳۷ اګست)**
**دویمه برخه**

### ۱ ـ دوه ډوله نړۍ لید

د بشر د پوهې د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ د تکامل د قانون په اړه دوه ډوله مفکورې موجودې دي: متافیزیکي مفکوره او دیالکتیکي مفکوره، چې دواړه دوه متضاده نړۍ لید جوړوي. لنین وویل:

«د تکامل (تدریجي تکامل) دوه بنسټیزه (یا دوه ممکنې؟ یا دوه تاریخي د لید وړ؟) مفکورې عبارت دي:د کمیدنې او زیاتیدنې په توګه تکامل، د تکرار په توګه تکامل او د اضدادو د وحدت په توګه تکامل (د یو وحدت ویشنه په داسې اضدادو چې د یو بل دافع وي او له یو بل سره دوه اړخیزه اړیکه ولري).» (۳)

لنین دلته د همدې دوه بیلابیلو نړۍ لید په اړه غږیږي.

متافیزیک ته په چین کې «شوان شوه» هم وایي. دې ډول تفکر، چې د ایده الیستي نړۍ لید برخه ده،  څه په چین او څه په اروپا کې د تاریخ اوږدې مودې لپاره د انسانانو پر عقایدو واکمنې درلوده. په اروپا کې، د بورژوازۍ ماتریالیزم هم د پیدایښت په لومړیو کې متافیزیکي ماتریالیزم و. خو له هغه ځایه چې د زیاتو اروپایي هیوادونو ټولنیز اقتصاد، د پانګوالی لا پرمختللي پړاو ته تکامل وکړ؛ مولده ځواکونو، طبقاتي مبارزې او علم داسې کچې ته تکامل وکړ چې تاریخ  کې سارې لیدلی شوی نه و او صنعتي پرولتاریا د تاریخي تکامل لپاره په یو ستر محرک ځواک بدل شو،  نو د دیالکتیکي ـ ماتریالیستي  مارکسیستي نړۍ لید راڅرګند شو. له دیالکتیکي ماتریالیزم سره د مخالفت په پار د ښکاره او بربنډ ارتجاعي ایده الیزم تر څنګ، د بورژوازۍ تر مینځ عامیانه اولوسیونیزم (تکامل پالنه) هم راښکاره شوه.

متافیزیکي یا عامیانه تکامل پالنې(اولوسیونیستی) نړۍ لید؛ نړۍ تجریدي، درېدلی او یوه اړخیزه وېني. دا نړۍ لید د دنیا ټول اشیاء، د هغې بڼې او ډولونه په ابدي ډول له یو بل جلا او نه بدلیدونکي وېني. دې نړۍ لید ته تکامل یوازې په کمیت کې زیاتیدنه او کمیدنه او د ځای بدلون دی. سربیره پر دې، متافیزیکي نړۍ لید د دې زیاتیدنې او کمیدنې او د ځای بدلون لاملونه دننه په  اشیاو  کې نه ګوري، بلکه دا لامل له اشیاو بهر وېني او بهرنی ځواک یې لامل ګڼي. متافیزیستان په دې باور دي چې د نړۍ بیلابیل اشیا او د هغوی بیلابیل ډولونه او همدا ډول ځانګړنې یې له پیدایښت تر ننه پورې یو شان پاتې شوي دي  او وروستني ټول بدلونونه د اشیاو په کمیت کې یوازې زیاتیدنه او کمیدنه ده. دوی ادعا لري چې یو شئی یوازې د خپل ډول تکرار دی او په بل هیڅ شئي بدلیدی نشي. د دوی په باور د پانګوالۍ

زبیښاک، د پانګوالی سیالي، د پانګوالی ټولني انديوويجليستي ايدئولوژي او نور، ټول کولای شوو د مرییتوب په لرغوني ټولني، یا ان په لومړني ټولني کې پیدا کړو او بی له کوم بدلون تل تر تله پاتی کيږي.

متافيزيستان د ټولنيز تکامل لاملونه له ټولني څخه د بهرني شرايطو، لکه جغرافيايي او اقليمي شرايطو سره تړلي ګني. هغوی د اشياو د تکامل لاملونه په ډيرو ساده بهرنيو شرايطو کې لټوي او د ماترياليستي ديالکتيک له دې تيوري انکار کوي چې تکامل د اشياو د دنننی تضادونو پايله ده. نو همدا دی چې دوی د اشياو د کيفي تنوع او له يو کيفيت او ماهيت څخه بل کيفيت او ماهيت ته د یوې ښکارندې (پدیدې) اوښتون توضيح کولای نشي. په اروپا کې دا ډول تفکر په اولسمي او اتلسمي پيړيو کې د ميکانيکي ماترياليزم په توګه او د نولسمي او شلمي پيړيو په پای او پيل کې د عاميانه تکامل پالني(اولوسيونيزم) په توګه شتون درلود.په چين کې د «آسمان نه بدليږي، نو ټائو هم نه بدليږي» متل ويل، د متافيزيکي تفکر بيلګه ښکاره کوي. (۴) متافيزيکي تفکر د اوږدې مودې لپاره د واکمني منحطي فيوډالي طبقي ملاتړ له ځان سره درلود. ميکانيکي ماترياليزم او عاميانه اولوسيونيزم چې په تيرو وروستيو سلو کلونو کې له اروپا راوارد شوي، د بورژوازي ملاتړ يې له ځان سره درلودلی دی.

د متافيزيکي نړۍ ليد په خلاف، ماترياليستي ديالکتيک نړۍ ليد په دې باور دی چې د يو شئي د تکامل د پوهيدني په پار بايد د هماغي شئي دننه او له نورو شيانو سره د هغه اړيکه مطالعه شي؛ په بله وينا د يو شئي دننه او اړين ذاتی حرکت بايد د اشياو د تکامل د لامل په توګه وکتل شي، البته چې هر شئی د خپل حرکت په بهير کې له خپل شاوخوا شيانو سره اړيکه لري او متقابلاً په يو بل اغيز کوي. د يو شئی د تکامل اساسي لامل بهرنی نه بلکه دننني او د يو شئي په دننني تضاد کې دی. په هر يو شئي کې دننني تضاد شتون لري چې د حرکت او تکامل لامل کيږي. په يو شئي کې تضاد د هغه د تکامل بنسټيزه لامل دی، حال دا چې له نورو اشياو سره د يو شئي متقابله اړيکه او متقابله اغيزه دويم لامل ګڼل کيږي. د همدې لپاره ماترياليستي ديالکتيک د ميکانيکي متافيزيکي ماترياليزم او عاميه اولوسيونيزم د بهرني لاملونو او د بهرني محرک ځواک له تيوري سره اغيزناکه مبارزه مخې ته بيايي.

ښکاره ده چې کره بهرني لاملونه يوازې کولای شي د ميکانيکي حرکت لامل شي، درجه يا کميت ورته بدل کړي، خو دا نشي توضيح کولای چې ولې شيان په زرهاو ډوله له کيفي پلوه له يو بل سره توپير لري او ولې يو شئی په بل شئي بدليږي. په حقيقت کې دا د اشياو دننني تضاد دی چې د بهرني ځواک له اغيزې د ميکانيکي حرکت د رامينځته کيدو لامل کيږي. د نباتاتو او حيواناتو ساده وده او همدا شان د هغوی کمي تکامل عمدتاً د هغوی د دننني تضاد پايله ده. همدا ډول ټولنيز تکامل تر ډيره له دننني لاملونو رامينځته ته کيږي نه له بهرني لاملونو څخه.

ډيري هيوادونه چې نژدې يو شان جغرافيايي او اقليمي شرايط لري، په خپل تکاملي وضعيت کې له يوبل سره ډير زيات توپير او نااندولتوب لري. برسيره پر دې، په يو هيواد کې کيدای شي ستر ټولنيز بدلونونه رامينځته شي، بی له دې چې د دغه هيواد په جغرافيايي او اقليمي شرايطو کې کوم بدلون راغلی وي. امپرياليستي روسيه په سوسياليستي شوروي اتحاد بدله شوه او فئوډالي جاپان، چې خپلي ټولي دروازې يې د نړۍ پر مخ تړلی وی، په امپرياليستي جاپان بدل شو، بی له دې چې د دې هيوادونو په جغرافيايي او اقليمي وضعيت کې کوم بدلون راشي. د فيوډالي نظام تر اوږدې واکمنی لاندې چين په تيرو سلو کلونو کې ستر بدلون کړی او اوس هم د نوي، خپلواک او آزاد چين په لورې درومي، بی له دې چې په جغرافيايي او اقليمي وضعيت کې کوم بدلون راغلی وي.

ادامه لري